نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۳/۱۲/۳۰

# ښه ډاکټر او ښه روغتون نه لرل د پلان برخه ده؟

د هیواد په کچه دومره ناخوالي او ستونزي شته چې کله ناکله سړی مجبوره کوي چې پر ناخوالو له سره فکر مه کوه، د نورو افغانانو په ډول ورځ تیره وه، که همدغه ناخوالي موږ راپورته نه کړو او په دي اړه بامسؤولیته افغانان متوجه نه کړو، همدا د غفلت او نه مسؤولیت لړی به همداسی روانه وي.
یوه ورځ مي په یوه مجلس کې چې د یو ښه پوهنتون او اسلامي بانک په اړه په کابل کې د جوړیدو بحث کېدی، وړاندیز وکی چې که موږ یو ښه پرمختللی روغتون چې زموږ د کلتور او خلکو غوښتنو ته ځواب ووایې ولرو اوسمهال به تر هرڅه همدې ته زیاته اړتیا وي، ټولو د بحث ګډونوالو ته هغه مهال سمه ونه بریښندله، خو کلونه وروسته بیا هم هغه کسانو د دغسي روغتون په اړه ارمان درلود.
شخصي پوهنتونونه هغه هم په کښته کېفیت ښه پرېمانه جوړ شول، دا یو ښه پرمختګ دی، خو ستونزه داده چې ناسالم رقابت یې د محصلینو سویه ډېره کښته کړي.
په کندهار کې عینو مینې ته څیرمه د یوه لوی روغتون (کمپلیکس) ودانیزې چارې په ډیر ګړندې ډول سره د عارف خان نورزي (اوسني د اوبو او بریښنا وزیر) له خوا پیل شوې، ودانی یې نږدې په بشپړه کېدو وه چې پرته له دي چې هیوادوال خبر شي، یو ناڅاپه یې د ودانیو بشپړ کېدلو چارې ودرول شوې.
ډیری شنونکې په دي نظر دي چې ګاونډي هیوادونه د دغسي اړینو ټول ګټو کارونو په مخه نیولو کې لاس لري، دا ډول نړیواله ټولنه هم په خپل پلان کې نه لري چې افغانان دي له اساسي او ټولګټو پروژو څخه برخمن شي.
هره ورځ مو په زرګونو ناروغان پاکستان، ایران او هند ته ځي، هغه افغانان چې اقتصادي حالت یې ښه دی، ترکېې، عربې هیواونو او ځینې شتمن خو امریکا، انګلستان او جرمني ته د تداوي لپاره ځي.
د پاکستان روغتونونه په افغانانو ډک وي، هلته چې هر مشهور او لوی شخصي روغتون ته سړی سر وربښکاره کړي نو ډیره سلنه ناروغان یې افغانان وي.
داسي نه ده چې په پاکستان کې افغان مهاجر همدغو پرمختللو او قیمتي روغتونو ته ورځي، له افغانستان څخه هره ورځ په زرګونو افغانان په ډیر مشکل سره سفر کوي او د پاکستان او افغانستان په سرحدونو له ستونزو سره سره بیا هم مجبوره دی چې د تورخم، چمن او میرانشاه د لاري د پاکستان کویټې، کراچې، پېښور، لاهور او اسلام آباد روغتونو ته ځانونه ورسوي.
تیر کال خو د تورخم د لاري د بندیدو له امله په تورخم ښارګوټې کې افغان ماشومان او ښځې هم مړې شوې، او د ځینو رنځورانو رنځ د یخې هواله له امله زیات شو.
سمه ده چې دولت پلان نه لري چې د هیواد په مرکز او زونو کې د افغانانو له پاره وړ او مناسب لوی روغتونونه جوړ کړي، دا ډول نړیواله ټولنه هم نه غواړي چې د افغانانو تداوي دي په کور دننه ؤشي.
باوري یم، که چېرته د افغان دولت په چوکاټ کې د عامې روغتیا وزارت د غلاشوو پیسو یوه اندازه په لویو روغتونونو لګولي وای نن به تر ډیره حده زموږ د افغان ولس د ناروغانو ستونزه حل وای.
بل لوری افغان شتمن دی چې سترګې ورته اوړي، په ډیرو هیوادونو کې شخصي روغتونونه د دولتي روغتونو په پرتله پرمخ تللي او ښه مجهز او د پام وړ خدمات لري، که زموږ سوداګرو دغې تشې ته پام کړی وای نو پر ځای سرمایه ګذاري به وای، هم به یې ګټه وای او هم به الله ج د ثواب مستحق ګرځولي وای.
په دې اړه مې ډیر فکر وکی چې ولی زموږ شتمن په هیواد کې دننه روغتون نه جوړوي، سمدستي مې د عارف خان نورزي کمپلکس په ذهن کې راوګرځید، لږ ځنډو وروسته مي ځان ته قناعت پر دی ورکی، چې ممکن کوم ګاونډي هیواد به ورته ویلې وي چې څومره پیسي تاسي ته په کار کېږي نغدي یې واخله خو له دغه کار څخه تیر شه.
بله خبره مي په ذهن کې توپکسالاري او زورواکې راوګرځیدله، که کوم شتمن دلته مجهز روغتون جوړ کړي او ډیر ناروغان ورته مراجعه کوي، د برق مسؤلین به وخت پر وخت برق د دی له پاره پري قطع کوي چې دوی ته باید حق (مفتې پیسي) ورکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دعامي روغتیا وزارت به په روغتون کې د شراکت ونډه (فیصدي) غواړي، د حوزي او پولیسو ځیني کسان به اخطار ورکوي که پیسي ورنه کړي نو بیا به خپله د روغتون مالک او یا دهغه زامن تښتوي.
ګاونډي هیوادونه به یې په ډول ډول نومونو تورنوي او پایله داچې د روغتون کار به پاتې وي تول وخت به د خپل ځان د خلاصون او دفاع له پاره کار کوي.
دریمه ستونزه د ښو ډاکټرانو درلودل دي، سمه ده چې په افغانستان کې ښه ډاکټران شته، خو هغوی د مریض تر تشخیص او دهغه د روغتیا پرځای د خپل جیب ډیر خیال ساتي، ښه مثال یې د هیواد په مرکز کې ځیني شخصي روغتونونه دي، ډیری داسي کسان یې عملیات کړي چې اړتیا اصلاً عملیات ته نه لري.
زه ډیر داسي کسان پیژنم چې افغان ډاکټرانو د پیسو لاسته راوړلو له پاره ورته دعملیات ویلي خو چې کله پاکستان او یا هند ته تللي د څو پاکټه ګولیو او څو ستنو سره یې الله ج روغتیا نصیب کړي ده.
که د ګاونډیو هیوادونو څخه ډاکټران راوستل کیږي، افغان ډاکټران او مافیا ډول ډول ستونزي ورته جوړوي، بالاخره له اونی او میاشت تیرولو وروسته د بل هیواد تکړه ډاکټر د مرګ له ویري بیرته له افغانستان څخه په کابل میدان هوایي کې د تل له پاره خدای پاماني کوي او شکرونه باسي چې له افغانستان څخه ژوندی بیرته وځي.
تر ټولو لویه ستونزه هیواد ته د افغان تجارانو له خوا د بې کیفیته دارو راوړل، د عامي روغتیا وزارت د فارمیسي ریاست کې د رشوت پر ورکولو یې د توزیع او خرڅلاو امر اخیستل او بیا د ډاکټرانو له خوا د کمیشن اخستلو په بدل کې افغان ناروغانو ته دهمدغه بې کیفیته داروګانو ورکول دي.
په ځینو دولتي روغتونو کې خو له وخت څخه تیر درمل هم رنځورانو ته ورکول کیږي، زما یو ملګري چې د کندهار ولایت په میرویس روغتون کې کار کوي، ویل چې سور صلیب نوموړي روغتون ته زیاته دواء وړیا د دي له پاره ورکوي چې رنځورانو ته ورکول شي، او د درملو کیفیت هم ډیر ښه وي، خو دغه درمل د مسؤولو کسانو له خوا په معلومو درملتونو کې په لوړه بیه خرڅیږي.
هغه دارو چې پاتي شي او خرڅ نه شي وخت یې تیر شي بیا د روغتونو پر شیفونو (ځانګو) وېشل کیږي او لاربنوونه ورته کیږي چې ژر تر ژره دغه له وخت څخه تیر درمل وایستل شي (ناروغانو ته ورکول شي) تر څو نور دارو له سور صلیب څخه ترلاسه کړي.
هند هیواد ته زموږ ډیر افغانان د تداوی له پاره ځي، او د هند درمل او هلته تداوي په لوړه بیه تماميږي، هره ورځ په میلیونو ډالر اقتصادي زیان موږ د ناروغانو له امله وینو، که زموږ شتمن او کابل اداره توانیدلي وای چې دغه اقتصادي زیان ته یې ځواب ویلی وای نو ممکن چې د اقتصاد تر ځنګ به د ولس زړه هم افغان تجارانو او کابل اداري لاسته راوړی وای.
که یو ناروغ پاکستان ته له کابل، شمالي ولایتونو، غزني،لویي پکتیا او لوی کندهار څخه ځي، ډیر زیات مصارف یې د موټر کرایه، په پاکستان کې د هوټل او ډوډی لګښت وي، دغه لګښت تر هغه څه لوړ وي چې درمل او د ډاکټر فیس دی.
له یادو لګښتونو ها خوا د پاکستاني پولیسو له خوا ځورونه او له افغانانو څخه پیسي اخستل، دا ډول د جیب وهونکو له خوا له افغانانو څخه پیسي غلاکول هم لویه ستونزه ده. په پاکستان کې د افغانستان سفارت نه دی توانیدلی چې د افغانانو ستونزو ته مناسب حل او د پاکستان د حکومت پام واړوي.
که هند ته افغان ناروغ ځي د ویزي مصارف، د الوتکي ټکټ او هلته په هوټلونو کې اوسیدل دومره لوړ مصرف دی چې یواځی شتمن افغانان کولای شي ولاړ شي.
تر ټولو بده او ناروا یې په پاکستان ا و هندوستان کې د مریضانو شکونه د افغان کمیشن کارانو له خوا څخه ده، زه نه وم خبر چې په پاکستان کې په روغتونو کې افغان کمیشن کاران له پاکستاني کمیشن کارانو سره په شریکه کار کوي، او بې وزلي افغانان لوټي.
په هند کې د افغان کمیشن کارانو ونډه دومره درنه ده چې تر ۴۰ سلني پوري رسیږي، که درمل د ۱۰۰۰ هندي روپیو وي، افغان رنځور باید چې ۱۴۰۰ هندي روپی ورکړي، دا ډول د ټستونو او عملیاتو په برخه کې ورته ستونزي شته.
په هیواد کې دننه هم کورګډي ډاکټران او د روغتونو مالکان ډیر بې رحمه دي، ماته یوه ملګري وویل چې د سترګو یو ډول انځور مې په کابل کې په ۳۰۰۰ افغانی واخیست خو همغه انځور په پېښور کې په ۸۰۰ افغانی (۱۵۰۰ کلداري) اخستل کیدی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان ډاکټران له اړتیا پرته رنځور ته دومره درمل ورکړي چې د هغه خوار هستي او نیستي ګرده ورڅخه واخلي، خو په پاکستان کې بیا دا ډول نه ده، د اړتیا سره سم درمل ورکول کېږي.
زما ښه یاد دي د طالبانو د حکومت پر مهال په هلمند ولایت کې زه اوسیدم، یو رنځور مې ډاکټر ته ورؤست، ډاکټر څکه زه پیژندلم چې څوی یې زما سره د انګلیسي ژبې کورس کې شاګرد وو، هغه رنځور ته یې دهغه وخت د اتیا زره افغانیو (۸۰ پاکستاني کلدارو) درمل ورکړل، کله چې رواوتم، رنځور ویل چې همدغه ډاکټر ته په دومداره ډول راځم، هر ځل دوه نیم لکه، دوه لکه اتیازره او دري لکه افغانیو درمل راته لیکي.
زموږ رنځوران ډیرې زیاتې ستونزې لري، سمه ده چې سوداګر له دي ویري چې امنیتي ستونزي لري سرمایه ګذاري نه شي کولای، په دي تمه چې هغه شتمن چارواکي چې د امریکا په خیرات کې د ښو ډیرو شتو خاوندان شول، ځیني والیان، ځیني وزیران، د ولسي جرګې ځیني غړي، د مشرانو جرګې ځیني غړي وهڅول شي تر څو په مرکز کابل او لویو ښارونو کې مجهز روغتونونه جوړ کړي، د افغان ډاکټرانو په څنګ کې بهرني ډاکټران هم قانع کړي چې د رنځورانو خدمت وکړي.
ځیني کوچني روغتونونه په ځانګړو برخو کې جوړ شوې چې ښه پرمختګ دي، خو ځیني لوي روغتونونه یواځې د افغانانو د لوټلو له پاره دي، او ناسالم رقابت کوي، هڅه یې داده چې څه ډول له رنځورانو پیسې ولوټي.
پای

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ